د افغانستان بانک
د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت
د مقرراتو او د بریښنایي پیسو او اداینیزو مؤسسو د څارنې مرستیالیت
د مقرراتو ستر مدیریت

گڼه: ۱۹۱۲ / ۱۰۷۷۲ / ۱۰۷۷۵

نېټه: ۲۷/۵/۱۴۴۸

بسم الله الرحمن الرحیم

د وړو تمویلونو د قدر وړ مؤسسو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته،

ماهیت: متحدالمال

موضوع: د کاغذي تذکرو پر بنسټ تر رهن لاندې د غیر منقولو اموالو (عقار) د پخوانیو معاملو د ثبت او وخت غځولو (تمدید) په اړه

له ډیر درناوي وروسته؛

د دې اداري د ۵۹۱۹ گڼې ۱۴۴۸/۰۴/۰۷ نېټې متحدالمال په تعقیب لیکل کیږي:

د افغانستان بانک د قدر وړ عامل پلاوي د ۲۱۸ گڼې ۱۴۴۸/۰۵/۰۷ نېټې پریکړې پر اساس د وړو تمویلونو مؤسسې اړې دي چې ورکول شوي فعال تمویلات دي د رهن غیر منقول شتمنیو د خبرتیاوو د ثبت په موخه، د کاغذي تذکرو د شمېرو پر بنسټ د دې متحدالمال د لاسته راوړلو وروسته د (۳) درې میاشتو په اوږدو کې په معلوماتي نظام کې ثبت کړي، او نوي مالي تمویلات به یوازې د بریښنایي تذکرو پر بنسټ د ثبت وړ وي.

موضوع په پورته توګه تاسوته د نورو اجراآتو په موخه شریکه شوه.

د افغانستان بانک له وخت څخه په استفادې ستاسو د لا زیاتو بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

۱۴۴۸/۵/۲۶

صدیق الله خالد
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

کاپي:

- د مسفا د قدر وړ اداري ته؛
- د کرنیزې پرمختیا صندوق د قدر وړ اداري ته؛
- د وړو تمویلونو د قدر وړ اتحادیې ته؛
- د اعتباراتو د ثبت او مالیي خدمتونو پراختیا د قدر وړ لوی آمریت ته.

د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل افغانستان/ تیلیفون ۲۱۰۴۷۶۱ (۲۰) ۰۰۹۳/ ایمیل: ...v.af
تولنیزې شبکې فیسبوک - د افغانستان بانک / ټویټر - @AFGCentralbank /